## [متن] په ژمي کې په مایستان کې د کوویډ-۱۹ د بیا راڅرګندېدو وړاندوېینه شوې

په مایستان جمهوریت کې د کوویډ-۱۹ لومړۍ پېښه د ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ په ۲۴ نېټه په پلازمېنه سیټرا کې تائید شوه. تر دې دمه د هیواد په ټولو ۲۴ ولایتونو کې د مثبتو پېښو شمېر ۳۸۱۱۳ ته رسېږي چې له دې ډلې څخه یې ۲۹۰۲۱ کسان بېرته روغ شوي او ۱۴۰۱ کسان مړه شوي دي. د نړیوالو سازمانونو د راپورونو له مخې، د وبا له امله د مړینو رښتینی شمېر ښایي د مړینې د راپور ورکولو د سیستم د ټیټ کیفیت له امله ډېر کم ښودل شوی وي.

د هغې جګړې د پیل راهیسې چې دوې لسیزې وړاندې د حکومت او وسله‌والې ډلې تر منځ پیل شوه، د بشري پرمختیا شاخصونه په دوامداره توګه د خرابېدو په حال کې دي. د مایستان د ۳۲ میلیونه وګړو له ډلې ٪۴۲ وګړي د بې وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي. په داسې حال کې چې په هېواد کې بې وزلي په کلیوالي سیمو کې ډېره ده – چېرې چې د هېواد ۷۰ سلنه وګړي ژوند کوي – مګر کوویډ-۱۹ په درېو اصلي ښارونو کې قربانۍ اخلي. تر دې دمه تر ټولو ډېرې مثبتې پېښې په سیټرا کې ثبت شوې چې شمېر یې ۱۴۸۷۷ ته رسېږي او ورپسې په کادیز کې ۶۰۹۰ او په هورات کې ۱۹۸۵ پېښې ثبت شوې دي.




په ګړندي ډول او له پلان پرته د هېواد ښاري کېدل، له کلیوالي سیمو څخه ښارونو ته د خلکو راکډېدل او له کاونډیو هېوادونو څخه د خلکو راستنېدل د مایستان په لویو او اصلي ښارونو کې د کوویډ-۱۹ د خپرېدو لاملونه ګڼل کېږي. په نارسمي مېشت ځایونو (هستوګنځیو) کې وضعیت د اندېښنې وړ دی ځکه د ځایي ډلو په وینا په دې ځایونو کې د کوویډ-۱۹ د مخنیوي لپاره وړاندیز شوې لارې چارې لکه د لاسونو مینځل، فزیکي واټن، د ځان جلا کول یا د ټولنې په کچه قرنطین ناشوني دي.

د نړیوال بانک د معلوماتو له مخې د پلازمېنې سیټرا ۷۰ سلنه برخه په نارسمي توګه رامنځته شوې. اوس مهال، د سیټرا د ۶ میلیونه اوسېدونکو اکثریت هغه یې په نا پلان شوو، نارسمي او ناقانونه هستوګنځیو کې اوسېږي. دا هغه هستوګنځي دي چې ښایي کوویډ-۱۹ په کې خپور شي.
په دې نارسمي مشېت ځایونو کې – چېرې چې ځوان او کم مهارته کارګران ژوندي کوي – د څرمن ([چرم] جوړولو، خاورینو لوښو جوړولو او تر ټولو مهم د ځځلو راټولولو او د هغوی د بیا پروسس په ګډون نور بېلابېل کاروبارونه په کې فعالیت کوي. ډېری داسې ښکاري چې ډېری دا کاروبارونه ډېر په منظمه توګه فعالیت کوي. رسمي اټکلونه ښیي چې یوازې په سیټرا کې ۱/۵ میلیونه وګړي په نارسمي هستوګنځیو کې اوسېږي، مګر د ځایي ټولنې د ډلو د شبکې په وینا چې په غریب مېشتو سیمو کې کار کوي، دا شمېره ۲/۵ میلیونه وګړو ته رسېږي. دغه راز په دې غریب مېشتو سیمو کې یو شمېر باندونه او بدماشان هم اوسېږي چې له ځایي کاروبارونو څخه په باج اخیستنه او د مخدره توکیو په قاچاق کې ښکېل دي. د دې غریب مېشتو سیمو اوسېدونکي د جېمیا له توکم سره تړاو لري چې ډېر دودیز او مذهبي خلک دي.
د ګاونډیو هېوادونو په پرتله مایستان ډېر لوړ عمر لرونکي وګړي لري. دا هېواد چې وګړي یې په شپږو لهجو خبرې کوي، ۴۳ سلنه وګړي یې سواد لري. د دوو لسیزو جګړې له امله د دې هېواد ۱۶ سلنه وګړي معلولین دي.
د تېرې لسیزې راهیسې، روغتیا وزارت د بېلابېلو ډونرانو (تمویل کوونکو) په مرسته هڅه کوي چې د ټولنې د روغتیایي متخصصینو د شمېر د زیاتولو، د هېواد د روغتیایي تسهیلاتو د پیاوړتیا او د مایستان د وګړو د روغتیایي زده‌کړې د کچې د لوړولو له لارې د دې هېواد روغتیایي سیستم ته وده ورکړي. که څه هم په دې برخه کې یو څه پرمختګ شوی – په ځانګړې توګه د ټولنې د روغتیا د ترویج د شبکو له لارې چې د غریب مېشتو سیمو په ګډون په ټول هېواد کې فعالې دي او د ملاریا او د ډینګو تبې د ناروغیو سره مبارزه کوي چې په هر باراني موسم کې رامنځته کېږي – مګر بیا هم د پام وړ اصلاحاتو ته اړتیا لیدل کېږي.
د مارچ په میاشت کې، ډونرانو (مالي تمویل کوونکو) د روغتیا نړیوال سازمان سره د دې لپاره مالي مرسته وکړه ترڅو چې د ملګرو ملتونو، نادولتي سازمانونو او د روغتیا وزارت تر منځ د همغږۍ د رامنځته کولو لپاره د خطر پوهاوي او ټولنیز مشارکت لنډمهاله کاري ډله تنظیم کړي. د ژمي په رانږدې کېدو سره، د هغو کسانو اټکلي شمېر چې ښایي د دې وېروس له امله مړه شي، په ځانګړې توګه په ښاري سیمو کې، خورا خطرناک دی.

### د ځایي رسنیو او مخابراتو د لرلید لنډیز او د ارتباطاتو دودیز ډولونه

پر دوو لسیزو جګړو سربېره، په مایستان کې د ځایي رسنیو وضعیت ښه دی که څه هم اکثریت دا رسنۍ د حکومت تر کنټرول لاندې دي.هغه کسان چې برښنا لري، ټلویزیون او ورپسې دریو ملي راډیوګانو ته ترجیح ورکوي چې مشهورې خبري او د خبرو اترو خپرونې وړاندې کوي. ډېرې برخه رسنۍ په سیټرا کې دي مګر په ولایتونو کې د خبریالانو پراخه شبکه لري. په دې هېواد کې درې مهمې ورځپاڼې خپرېږي او که څه هم چې په محدوده توګه چاپ او توزیع کېږي، مګر ډېرې اغېزناکې دي ځکه د دې ورځپاڼو خبرونه او نظرونه هر ورځ په ټلویزیوني او راډیويي خپرونو کې خپرېږي.

د وچکالیو له امله د برښنا د تولید ستونزه ورځ په ورځ زیاتېږي. ګرځنده ټلیفون او انټرنېټي خدماتو ته لاسرسی چې د دوو مخابراتي شرکتونه له خوا وړاندې کېږي، په پلازمېنه او مهمو ښارونو کې د باور وړ او باثباته دي مګر دا خدمات په کلیوالي سیمو کې لا هم ډېر کم دي یا ښېخي نه شته.

پیکابو (Picaboo) ټولنیز پلټ فارم او ټیک ټاک (TikTok) د پیغام لېږلو پلټ فارم د مایستان تر ۳۰ کلونو د کم عمره وګړو تر منځ دېر مشهور دي، او همدا پلټ فارمونه دي چې د کووېډ-۱۹ په هکله ناسم معلومات ترې خپرېږي.